بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

ستره محکمه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی
عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تيری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۳۰ وری ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۱ شوال المکرم ۱۴۴۶ هـ ق | ۱۹ اپریل ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۹۶)

## په بادغیس، نیمروز او فراه ولایتونوکې په څلورو قاتلینو باندې د الله (جل جلاله) حکم (قصاص) تطبیق شو

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وكفى والصلوة والسلام على عباده الذين اصطفى، اما بعد:

قال الله تبارك وتعالى: وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاة يا أولي الألباب لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (البقرة: ۱۷۹)

ژباړه: ستاسو لپاره په قصاص کې ژوند دی، اې د عقل خاوندانو د دې لپاره چې تاسو تقوا حاصله کړئ.

و ایضاً قال الله تعالى: وَمَن قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا فَلَا يُسْرِف فِي الْقَتْلِ ـ إِنَّهُ كَانَ مَنصُورًا (الاسراء: ۳۳)

ژباړه: او څوك چې مظلوم وژل شوی وي، د هغه وارث ته موږ د غچ غوښتنې (قصاص) حق ورکړی دی، نو پکار ده چې هغه په وژلو کې له حده تېری ونه کړي، له هغه سره به مرسته وشي.

په بادغیس، نیمروز او فراه ولایتونو کې په څلورو قاتلینو باندې د الله (جل جلاله) حکم (قصاص) تطبیق شو.

دغه قاتلینو چې د کلاشینکوف د ډزو او چاقو په واسطه یې کسان په قتل رسولي وو، شهرت په لاندې ډول دی:

په بادغیس ولایت کې لومړي قاتل (سلیمان د محمد رسول زوی د موسی لمسي، د بادغیس ولایت د تګاب علم ولسوالۍ د چاه جلال کلي اوسېدونکي) مقتولین (غلام نبي د محمد زوی د قوت الله لمسی، عیدي ګله د غلام نبي لور د محمد لمسۍ او زرګله د شراف الدین لور د الله داد لمسۍ) د کلاشینکوف او دویم قاتل (حیدر د مجنون زوی د حاجي ایدل لمسي، د بادغیس ولایت د دره بوم ولسوالۍ د نخچرستان کلي اوسېدونکي) محمد شاه د محمدالدین زوی د یاسین لمسی د کلاشینکوف د ډزو په وسیله وژلي و.

دغه راز په نیمروز ولایت کې قاتل (عبدالقدیر، د عبدالرحمن زوی، د غلام دستګیر لمسي، د نیمروز ولایت د مرکز اوسېدونکي) مقتول (فراح الدین، د نصرالدین زوی، د سیف الدین لمسی چې د نیمروز ولایت د مرکز اوسېدونکی و په عمدي ډول په قتل رسولی و.

په فراه ولایت کې بیا قاتل (محمد صادق، د حاجي عبدالرحمن زوی، د حاجي میر احمد لمسي، د فراه ولایت د شیب کوه ولسوالی اوسېدونکي) مقتول (بسم الله، د حاجي احمد زوی د جمعه خان لمسی، د فراه ولایت د شیب کوه ولسوالۍ اوسېدونکی) په عمدي ډول په قتل رسولی و.


یاد موضوعات د اسلامي امارت د سترې محکمې اړوند درې ګونو محاکمو (ابتدائیې، مرافعې او تمیز) لخوا په خورا دقیق او مکرر ډول وڅېړل شول؛ چې په پایله کې پر قاتلینو د قصاص حکمونه صادر او تائید شول، وروسته دغه حکمونه د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه‌الله تعالی) حضور ته د تائید لپاره وړاندې شول.

د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) لخوا هم د دغه موضوعاتو په اړه د وروستي احتیاط په موخه فوق العاده څېړنې وشوې، د مقتولینو کورنۍ ته د بخښنې او سولې لپاره وړاندیزونه شوي وو، د هغوی له نه منلو او انکار وروسته په قاتلینو باندې د قصاص شرعي حکمونو د تطبیق امر ورکړل شو او د دغه حکمونو د تطبیق لپاره د هېواد سترې محکمې ته هدایت وشو، چې دغه د قصاص حکمونه د ۱۴۴۶ هجري قمري کال د شوال المکرم میاشتې په ۱۳مه نېټه د بادغیس، نیمروز او فراه ولایتونو په مرکزونو کې د هېوادوالو په یوه مجموعه کې تطبیق کړي.

د قصاص د ترسره کېدو په موخه د هېواد د قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په هدایت د سترې محکمې د جنوب لوېدیځ زون د تمیز عالي ریاست او قضائي معاونیت جلا، جلا پلاوو یادو ولایتونو ته سفرونه وکړل.

د قصاص الهي حکمونو د تطبیق په موخه جوړو شوو غونډو کې د جنوب لوېدیځ زون د تمیز عالي ریاست او سترې محکمې قضائي معاونیت د پلاوو غړو، په هر ولایت کې د اړوند ولایت د مرافعه محکمې رئیس، د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس، د محاکمو قضائي او اداري منسوبینو، د ولایتي امارتي ادارو مسؤولینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

د یادو غونډو په پای کې په هېواد کې د سرتاسري امنیت د لا ټینګښت، د خلکو شرعي حقونو ته د لا رسېدو او د اسلامي شریعت د لا ښه تطبیق لپاره دعاوې وشوې؛ او غونډې د قاتلینو په وژنه او په دې اړوند د الله تعالی د ستر حکم قصاص په تطبیق پای ته ورسېدې.




## د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات د ارزګان ولایت له مرافعه محکمې څخه لیدنه وکړه

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب او ورسره مل پلاوي په ۱۱/ ۱۰/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د ارزګان ولایت له مرافعه محکمې څخه لیدنه وکړه.

د لیدنې په پیل کې د سترې محکمې محترم رئیس د یاد ولایت اړوند محاکمو له قضائي غړو سره ناسته وکړه.

ناسته د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب ګډونوالو ته په وینا کې وویل، باید ټولې قضائي او اداري چارې په ټاکلي وخت کې ترسره شي، تر څو د خلکو کارونه ونه ځنډېږي او د خپلې حاضرۍ پابندي کوئ.

محترم شیخ صاحب زیاته کړه، د شریعت او نظام له خوا ټاکل شوي اصول څرګند دي، باید له دغه اصولو پرته قدم پورته نشي، خواهشات مو کنټرول کړئ او هر مسؤول باید د خپل وجدان پر وړاندې ځواب ویونکی وي.

د غونډې په دوام د مرافعه محکمه رئیس محترم قاضي القضات شیخ صاحب ته ډاډ ورکړ، چې اړوند محاکم خپل اداري او قضائي اجراآت په خپل وخت او په منظم ډول اجرا کوي، مسؤولین او منسوبین د خپلو حاضریو پابندي به کوي.

د غونډې په وروستیو کې ګډونوالو خپلې اړتیاوې او ستونزې له محترم قاضي القضات شیخ صاحب سره شریکې کړې او د شیخ صاحب لخوا د یادو اړتیاوو د پوره کولو ډاډ ورکړل شو.

دغه راز د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي القضات او ورسره مل پلاوي د یاد ولایت د استخباراتو، امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو، علماوو شورا رئیسانو او د امنیه قوماندانۍ آمر سره وکتل او د هغوی ستونزې یې واورېدې.

### په نبوي دوره کې د ځینو قاضیانو یادونه:

**۹- حذیفه بن یمان ﵁:**

**درېیمه برخه**

یو سړي له حذیفه ﵁ څخه وپوښتل: کومه فتنه ډېره سخته ده؟ ده ورته ځواب کې وویل: چې کله پر تا خیر او شر وړاندې کړل شي، نو ته نه پوهېږې چې کوم یو باندې سپور شې.

محمد بن سیرین وایي چې د عمر ﵁ تګلاره داسې وه، کله به یې چې کوم مسؤول لېږه، نو یو تړون به یې ورته لیکلو:«چې ما فلانی شخص وټاکه او په دغه شیانو مې امر کړی دی»؛ نو کله یې چې حذیفه د مدائن مسؤول وټاکه، تړون کې یې لیکلي وو: اې ولسه! د ده خبرې اورئ او پیروي یې کوئ او هغه څه ورکړئ، چې دی یې له تاسو څخه غواړي»، کله چې حذیفه ﵁ ور ورسېدلو، نو تود هرکلی یې وکړ، کله چې د هغه تړون هغوی ته ولوستل شو، هغوی وویل: زموږ څخه هر هغه شی وغواړئ، چې ستا خوښه وي؛ نوده ورته وویل: چې زه له تاسو څخه خوراک غواړم، چې زه یې وخورم او د خپلې سپرلۍ (خره) لپاره واښه غواړم، تر څو چې تاسو سره یم، بیا یې دلته استوګنه پیل کړه.

اخذلیک: تتمة النظام، ۵۴ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## په خوست ولایت کې (۱۱) مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د خوست ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا او عامه امنیت دېوانونو د پرېکړو له مخې د یوې ښځې په ګډون درېیو کسانو ته د زنا په تور او د دوو ښځو په ګډون اته کسانو ته د نامشروع اړیکو، د شعائرالله توهین، رشوت او دروغ راپور ورکولو په جرمونو؛ په ۱۲/ ۱۰/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه. ابتدائیه محکمې یاد کسان له دوو تر پنځو کالو پر تنفیذي بند او له ۳۵ تر ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یادې پرېکړې د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوې.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د خوست مرافعه محکمې عمومي رئیس الحاج مولوي امین الله (منیب)، د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس مولوي نقیب الله (ذاکر)، قضائي غړو، نظامي منسوبینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت جوزجان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی درزاب ولایت فاریاب بالای دو زن به جرم داشتن روابط نامشروع و فرار از منزل؛ به تاریخ ۱۲/ ۱۰/ ۱۴۴۶هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه مجرمین مذکور را به سه ـ سه سال حبس تنفیذی و ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

در گردهمائی که به همین منظور دایر گردیده بود، مولوی عبدالغنی (سعید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه، مسؤولین و رؤسای دواوین، مفتی صاحبان، محررین و دوستان مجرمین حضور داشتند.

جلسه با تلاوت چند آیات از کلام الله مجید آغاز گردید؛ بعداً رئیس محکمهٔ مرافعه گفت، اجتناب از گناه و عمل به احکام شریعت نمائید؛ تا از حدود و تعزیرات به امان بمانید. جلسه بعد از تطبیق حکم جزای تعزیری به دعاء خیر به پایان رسید.

## حکم جزای تعزیری بالای چهار متهم در ولایت غزنی تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی جاغوری ولایت غزنی به تاریخ ۱۴۴۶/۱۰/۱۲ هـ ق بالای چهار تن که متهم به سرقت بودند؛ در مقر محکمهٔ مذکور حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه از جمله متهمین دو تن را به ده ـ ده سال حبس تنفیذی و ۳۹ ـ ۳۹ دُره و دو تن متهم دیگر را به پنج ـ پنج سال حبس تنفیذی و ۳۹ ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

گردهمائی که به همین منظور دایر گردیده بود، بعد از تطبیق حکم جزای تعزیری به دعاء خیر به پایان رسید.

## په فراه ولایت کې درېیو مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د فراه ولایت بالابلوک ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې یو کس ته د نامشروع اړیکو په جرم او دوو کسانو ته چې پر غلا متهم وو؛ په ۱۰/ ۱۰/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د یادو کسانو له ډلې یو مجرم پر ۳۹ دُرو او دوه متهمین پر ۲۰ـ ۲۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.

تعزیري سزا د ابتدائیه محکمې په انګړ کې د قضائي پلاوي او نورو اړوند مسؤولینو په شتون کې تطبیق شوه.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت سرپل تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ دیوان جزاء محکمهٔ مرافعهٔ ولایت سرپل بالای یک زن به اساس داشتن جرم ارتباط نامشروع؛ به تاریخ ۱۰ /۱۰ /۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

دیوان جزاء مجرم مذکور را به یک سال حبس تنفیذی و (۳۹) دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در مقر محکمهٔ مرافعه با حضورداشت اعضای قضائی، کارمندان اداری و خدماتی، پرسونل نظامی و مراجعین تطبیق گردید.

## په میدان وردګ ولایت کې څلورو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د میدان وردګ ولایت جلریز ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې څلورو کسانو ته چې پر غلا متهم وو؛ په ۹/ ۱۰/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د متهمینو له ډلې دوه تنه پر دوه ـ دوه کاله تنفیذي بند او ۲۵ ـ ۲۵ دُرو، درېیم متهم پر درې کاله او شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۲۵ دُرو او څلورم متهم پر دوه کاله او اته میاشتې تنفیذي بند او ۲۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د یادې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس مفتي رحمت الله (نعماني) او د یو شمېر نورو امارتي ادارو استازو د تعزیري سزا د تطبیق پر اهمیت، ارزښت او ګټو هر اړخیزې ویناوې وکړې.

غونډه د تعزیري سزا له تطبیق وروسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت سرپل تطبیق شد

به اساس فیصله محکمهٔ ابتدائیه ولسوالی سنچارک ولایت سرپل به شمول یک زن بالای دو تن به جرم روابط نامشروع؛ به تاریخ ۸/ ۱۰/ ۱۴۴۶ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه مجرمین مذکور را به سه ـ سه ماه حبس تنفیذی و ۱۰ـ ۱۰ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در مقر محکمهٔ مرافعهٔ در حضورداشت اعضای قضائی، کارمندان اداری و خدماتی، پرسونل نظامی و مراجعین تطبیق گردید.

## د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند مجاهدینو لپاره د معسکر د پنځمې دورې افتتاحیه ناسته وشوه

د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند د حضرت خالد بن ولید (رضي‌الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندانۍ د معسکراتو د پنځمې دورې افتتاحیه ناسته، د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د شوال المکرم میاشتې په ۹مه نېټه د یاد ریاست په انګړ کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې د سترې محکمې امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د دفتر عمومي مدیر مولوي خان محمد (مستغفر)، د حضرت خالد بن ولید (رضي‌الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندان مولوي نقیب الله (بلال)، نورو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

ناسته د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د غونډې ګډونوالو ته د یاد ریاست د نظامي محاکمو د امنیتي او اجرائیوي قطعاتو قوماندانۍ د دعوت او ارشاد آمر مولوي عصمت الله د نظامي او عقیدوي زده کړو د ارزښت په اړه وینا وکړه وویل، مسلمانان مکلف دي چې د دین او اسلامي قلمرو د ساتنې لپاره نظامي او عقیدوي زده کړې وکړي، تر څو د کفارو د هر ډول دسیسو پر وړاندې د مقابلې توان پیدا کړي، د نظامي او عقیدوي زده کړو په کولو سره به مجاهدین هم د فزیکي وړتیاوو څخه لا برخمن شي او هم به یې مرامونه لوړ او لا پیاوړي شي.

محترم مولوي عصمت الله زیاته کړه، مسلمان سره نه ښایي چې خپل ارزښتناکه وخت په بې هوده مصروفیتونو کې تېر کړي، د اسلامي نظام د بقاء لپاره دا ستړیاوې او مشقتونه وزغمئ، دغه اسلامي نظام لا مستحکم او پر خپلو پښو ودروئ، تر څو الهي مکلفیت اداء او دغه اسلامي نظام ته د خدمت جوګه شئ.

دغه راز د یادې قوماندانۍ قوماندان مولوي نقیب الله بلال ډاډ ورکړ، چې له مجاهدینو سره به هره ممکنه همکاري کوي تر څو له دغه دوره لا مثبته او موثره پای ته ورسېږي.

غونډه د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.

## محترم مولوي واحدالله (صدیقي) د کابل ښاري ابتدائیه محکمې دویم زون د سرپرست رئیس په توګه معرفي شو

د کابل ښاري ابتدائیه محکمې دویم زون سرپرست رئیس محترم مولوي واحد الله (صدیقي) په ۹/ ۱۰/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د کابل ولایت مرافعه محکمې مدني دېوان رئیس محترم مولوي عبدالله (اسرار) لخوا د یوې غونډې په ترڅ کې د یاد زون قضائي او اداري مسؤولینو او منسوبینو ته معرفي او رسما یې خپله دنده پیل کړه.

په همدې موخه جوړه شوې غونډه کې د کابل ولایت مرافعه محکمې مدني دېوان رئیس، د کابل ښاري ابتدائیه محکمې د لومړي او درېیم زونونو عمومي رئیسانو، د دویم زون د دېوانونو قضائي غړو او کارکوونکو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د کابل ښاري ابتدائیه محکمې لومړي زون رئیس محترم مولوي عبدالبصیر (مصعب) لخوا د نوي سرپرست رئیس د معرفي کېدو مکتوب د غونډې ګډونوالو ته ولوستل شو.

د غونډې په دوام محترم مصعب وویل، الحمدلله ټول قضائي غړي د ښو تجربو خاوندان دي، اړونده چارې په ښه ډول رواني دي، د کابل ښاري ابتدائیه محکمې څلور زونونه په ښه همغږۍ خپل کارونه ترسره کوي او د اړتیا پر مهال له یو او بل سره همکار وي.

د غونډې په وروستیو کې د دویم زون نوي سرپرست رئیس خبرې وکړې وویل، زموږ موخه خپلو خلکو او نظام ته خدمت دی، که د مشرتابه لخوا د افغانستان په هره سیمه کې مسؤولیت راکړل شي ان شاءالله ښه په اخلاص به یې ترسره کوو.

## محاکم ولایت بدخشان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۵۴۹) دوسیه، به تعداد (۲۷۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بدخشان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۹/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۴۶۰) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته است. از آن جمله در رابطه به (۳۰۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۱) دوسیه فیصله شده، (۴۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۸۹) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته است. از آن جمله در رابطه به (۳۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۲) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۲۷۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت سمنگان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۳۳) دوسیه، به تعداد (۹۵) قطعه وثایق نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها از تاریخ ۱۵/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۷/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۹) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۳۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۶) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۴۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۹۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۶۹) دوسیه، به تعداد (۱۷۴) قطعه وثایق نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۷/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۷۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۲۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۳) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۷۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت بامیان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۶۹) دوسیه، به تعداد (۱۰۵) قطعه وثایق نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بامیان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۳/ ۹/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۹۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۲۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۰) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

در بخش وثایق:

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بامیان به تعداد (۱۰۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت جوزجان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۱۵۸) دوسیه، به تعداد (۱۳۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت جوزجان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی جوزجان ـ سرپل، محکمهٔ اختصاصی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۴۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۳) دوسیه فیصله شده، (۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۴) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۴) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت جوزجان به تعداد (۱۳۴) قطعه وثایق نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت بغلان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۵۶۹) دوسیه، به تعداد (۳۰۶) قطعه وثایق نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۴۷۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۳۰۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۶) دوسیه فیصله شده، (۴۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۶۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۹۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۹) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۳۰۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت بادغیس طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۵۰۶) دوسیه، به تعداد (۱۳۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۲۹/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۵۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۲۴۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۸) دوسیه فیصله شده، (۵۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۴۷) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۸۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۹) دوسیه فیصله شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۱۳۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات بادغیس ولایت ته سفر وکړ

د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب د یوه پلاوي په ملتیا په ۱۴/ ۱۰/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه، بادغیس ولایت ته سفر وکړ.

محترم شیخ صاحب په دغه سفر کې د مرافعه محکمې او اړوند دیوانونو او نظامي محکمې له رئیسانو، د یاد ولایت له والي الحاج حافظ محمد امین جان (عمري)، مرستیال والي، امنیه قوماندان، د استخباراتو، احکامو او فرامینو، علماوو شورا رئیسانو، د زندانونو چارو آمر او نورو مسؤولینو سره لیدنه وکړه.

قاضي‌القضات شیخ صاحب په دې لیدنه کې له حاضرینو سره د محاکمو د فعالیتونو، حقوقي چارو او قضائي بهیر په اړه په خبرو علاوه د دوی نظرونه او غوښتنې واورېدې.

د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په خپلو خبرو کې وویل، د قضائي نظام پیاوړتیا د اسلامي عدالت د تأمین لپاره حیاتي ارزښت لري، اړونده اداري دې له محاکمو سره خپله قانوني او شرعي همکاري لا زیاته کړي، تر څو عدالت تأمین او خلکو ته په ټاکلي وخت شفاف خدمات ترسره شي.

دغه راز محترم شیخ صاحب د محاکمو مسؤولینو ته د زندانیانو د حالت د څرنګوالي، د هغوی د وضعیت د پوښتنې او د هېوادوالو دوسیو ته د ژر تر ژره رسېدو په اړه لازمي سپارښتنې وکړې.

د غونډې په وروستیو کې د امارتي ادارو مسؤولینو بادغیس ولایت ته د محترم قاضي‌القضات شیخ صاحب سفر ارزښتناک یاد کړ او ډاډ یې ورکړ چې له محاکمو سره به هر اړخیزه همکاري کوي.

د یادونې وړ ده چې بادغیس ولایت ته د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي‌القضات د سفر اصلي موخې د دغه ولایت د محاکمو نظارت او د محاکمو د چارو ارزونه، د محاکمو د اړتیاوو او مسؤولینو د غوښتنو اورېدل او له محاکمو سره د نورو امارتي ادارو د همغږۍ ډېرېدل وو.

## خلاصهٔ گزارش اجراآت ربع دوم سال ۱۴۴۶ هـ ق ریاست عمومي دارالانشاء ستره محکمه

ریاست عمومي دارالانشاء ستره محکمه طی ربع دوم سال ۱٤٤٦ هـ ق اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

- به تعداد (۱۶۱۶) موضوع تبدیلی محکمه، به تعداد (۴۹۲) موضوع استهداء، به تعداد (۷۱۲) موضوع متفرقه، به تعداد (۱۱۰) موضوع تنازع صلاحیت، به تعداد (۱۶۹۷) موضوع تخلفات قضات، به تعداد (۲۰۴) موضوع تجدید نظر و به تعداد (۵) متحدالمآل که مجموعاً به تعداد (۴۸۳۶) موضوعات میشود از این ریاست صادر و وارد گردیده‌است و مطابق اصول رسیدگی شده‌است.

## د کابل ولایت قره باغ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د مسؤولینو په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند، قره باغ ولسوالۍ ابتدائیه محکمې سرپرست رئیس مفتي محمد هاشم (الهام) په ډېرو هڅو او د قومي مشرانو په منځګړیتوب په ۲/ ۹/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د قتل موضوع حل او فصل شوه.

یاده موضوع چې څه موده وړاندې د قره باغ ولسوالۍ اړوند د قلعه باز په کلي کې د یو ځایي اوسېدونکي د قتل له امله رامنځته شوې وه؛ محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور وڅېړل شوه.

ورپسې د ابتدائیه محکمې مسؤولینو د مقتول کورنۍ قاتل بښنې ته وهڅوله، له ډېرو هڅو او ترغیب وروسته د مقتول وارثینو بښنې ته غاړه کېښوده.

یاده موضوع د مقتول کورنۍ تر رضایت وروسته د یوې غونډې په ترڅ کې چې قومي مشرانو او سپین‌ږیرو هم په کې ګډون درلود؛ د قاتل په بښنې سره په رسمي ډول پای ته ورسېده.

## خلاصهٔ گزارش اجراآت معاونیت قضائی ستره محکمه

معاونیت قضائی ستره محکمه طی ربع دوم سال ١٤٤٦ هـ ق اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

- به تعداد (٨٦٤) قطعه مکاتیب از ارگان‌های مختلف امارت اسلامی افغانستان برای مطالبهٔ هدایات قضائی به عنوان معاونیت قضائی ستره محکمه مواصلت نموده‌است که بعد از هدایت معاون صاحب قضائی دوباره به مراجع مربوطه ارسال گردیده‌است.
- به تعداد (٧٥٩) قطعه مکتوب بعد از هدایت معاون صاحب قضائی به مراجع مربوطه آن ارسال گردیده‌است.

* به تعداد (٣٣٧٩) قطعه عرایض غرض مطالبات حقوقی و قضائی به معاونیت قضائی مواصلت ورزیده بود که بعد از هدایت این معاونیت احکام و به اصحاب دعوی یا مراجع مطالبه کنندهٔ آن ارسال و به تعداد (٥٦٤) قطعه عرایض مسترد گردیده‌است.




## محاکم ولایت تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۱۵) دوسیه، به تعداد (۴۹۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعهٔ، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۲۹/ ۹/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۱۵) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۲۴۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۹) دوسیه فیصله شده، (۶۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۰۰) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته است.

از آن جمله در رابطه به (۶۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۶) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۹۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.




د ترلاسه کولو پتې:
د مطالعې مینوال یې کولی شي، چې کابل، جاده میوند، سر چوک حکمت خپرندویه ټولنه کابل، جوی شېر او کوټه سنګي مستقبل خپرندویه ټولنه څخه ترلاسه کړئ.
یادونه: کوم کتاب پلورنځیو والا چې په عمده شکل پکار وي، کولی شي چې د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست سره اړیکه ونیسي. +93 71 100 7766

### خبرتیا:

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات نوې علمي هڅه او زیار!

د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني، چې له وړاندې هم ګڼ علمي، قضائي او فقهي تصنیفات چاپ شوي، دا ځل یې د "القول الصریح في بیان صلاة التراویح" تر نامه لاندې یو مهم او مستند کتاب ترتیب کړی دی.

په دې کتاب کې د تراویحو د لمونځ په مشروعیت، تراویحو په جماعت سره ادا کول، د تراویحو د رکعتونو تعداد او د تراویحو نورې اضافي ګټې په فقهي او علمي دلایلو سره څېړل شوي، چې د علماوو، طلباوو او عامو خلکو لپاره ګټور اثر ثابتېدای شي.

ټول علمي شخصیتونه، طلاب او عام مسلمانان کولای شي له دې ارزښتناک کتاب څخه استفاده وکړي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳